الله تعالى به هغه چا ته نظر و نه کړي چې خپل کالي د تکبر په نيت د ځان پسې راکاږي

له ابن عمر - رضي الله عنهما - څخه روايت دی چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي: «الله تعالى به هغه چا ته نظر و نه کړي چې خپل کالي د تکبر په نيت د ځان پسې راکاږي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

پيغمبر د کاليو يا ازار د ټيټولو او ځان پسې د راښکلو په اړه خبرداری ورکړی چې د ښځګرو لاندې د عُجب او تکبر له مخې ښکته کړل شي، او دا يې څرګنده کړې چې څوک دا کار وکړي، نو هغه د سخت ګواښ مستحق ګرځي، داسې چې الله تعالى به قيامت په ورځ د رحمت په نظر ورته و نه ګوري.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5370